# لغمان پیژندنه

لنډه لیکنه : رفیع الله(ځواکمن)





Ketabton.com






www.Rafi789&gamil.com
8/19/2016
PH:0787450421

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د لـــوی او مهربـــان خدای شخـه ډیـر شکر ګذار یم چــی ماته یې ددی تـوفیـق راکـړ تــــــرخـو دا لـنډه لیکنه ولیکم او لـــه تـــاسـو سره یــــــی شریکـه کـړم تـرخــو تــاسـو محــــــترم وکـــولای شيٌ چــی د لـــــــغمان ولایـــت پـــه اړه لازم معـــلومـــات تـــرلاســـه کـړی کـــه څـه هـــم دانســــــــان ځیــــنی غلـــطی کـــیږی آمـــا د ډیـــر کوښــــښ څــــینی وروستـــــــه بیــا هــــم له تاسو محتــــــرمو څــــخـه هــــیلـه کــوم کـه پـــــه کــوم ځــای کـــــی دغلــــطی ســـره مــخ شــــويٌ پـــــه مهربـــــانی ســـره غلــطی اصـــــلاح او دلاســــمـــون لپـــاره لـــه مـــــوږ ســـــره اړیـــــکه ونیـــــسیّ.

منـــــــنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دلغمان ولایت په اړه مفصل معلومات

لغمان ولایت د افغانستان یو له شرقی ولایاتو څخه ده چې په کال ۱۳۴۳ هـ ش کې تاسیس شوو چې مرکز یې مهترلام او نوموړی ولایت ۳،۸۴۳ کیلو مترمربع مساحت لری اونفوس یی په ۲۰۰۹ م کال کی ۴۳۵ زره تخمین شوئ او ارتفاع یې دبحر له سطحې څخه ۷۷۲ متره ده.

لغمان ولایت چې د هندوکش غرونو په څنډ دکابل سیند په څنګ کې موقیعت لری چې دعلینګار او علیشنګ سیندونو دی ولایت ته لا ښکلا وربښلی ده






تصویر: از دریای الینگار

## لغمان ولایت دموقیعت له نګاه


لغمان ولایت چې دهیواد یو له ستراتیژ یکو ولایاتو څخه ده چې په شرق او جنوب کې له ننګرهار سره او شمالی شرق کی له کنړ او شمال کې له نورستان او په شمال غرب کې له پنجشیر او غرب کې له کابل او کاپیسا سره ګډه پوله لری.

چې نوموړی ولایت دمرکز په ګډون شپږاداری واحدونه لری چې په لاندی ډول دی

مهترلام، علینګار ،علیشنګ ،دولت شاه،قرغه یی،بادپخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## معلومــــــات مفـصل دربـاره ولسـوالی هـای ولایـت لغمان




ولسوالی قرغـه ئی ارتفاع ازبحر ( 650 ) متر .

ولســـــوالی علینگار ارتفاع ازبحر (950 ) متر .

ولسوالی علیـشنگ ارتفاع ازبحر (1000 ) متر .

ولسوالی دولت شاه ارتفاع ازبحر( 1550 ) متر .

ولسوالی باد پخ ارتفاع از بحر (850)متر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لغمان ولایت دتاریخ له پلوه

په لغمان ولایت کی دتېولوقریو شمیر ۶۴۰ ده چی لغمان یو وخت دالینایانومربوطه سیمه وه چی دا ولایت دبودایانو دمدنیت مرکز هم یاد شوی دی او برعلاوه داشوکا (چی دهند دیوریایي پادشاه وه) دتیگو نوشتونه بل دډرونتې اثار اویو شمیر دبودایانو اثار چی هلته موجود دی چی دمحقیقانو دتوجه یی ځان ته جلب کړه حدودالعلم چی دهغی بت خانی ته اشاره کولی شوو او مختلف تاریخی روایاتونه د محترلام یا مهترلمک بنار په اړه شته ده.

## په لغمان ولایت کی میشت قومونه

په لغمان ولایت کی مختلف قومونه ژوند کوی چی عبارت دی له >>>

پښتون ،تاجک او پشیان


معلومات بیشتر درباره اقوام در صفحه ۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دقومونوپه اړه لا زيات معلومات

لــــکه څنګه چې مــوږ تــول پــه دی پــوهيــږو چــی پــــه لغـــمان ولايت کی بيــــلابيــــل قــومـــونـــه ژونـــدکـــوی چــــی لــــه هغـــی ډلی نه يـــــی ۵۸٪ فـــيصده دپـــښتـــون قــــــوم او ۲۱٪ فـــــيصده د تـــاجـــک قــــوم او ۲۱٪ فــــيصــــده د پـــشيــــانـــــوقـــــوم ددی ولايـــــــت نـــفـــــــوس تـــشکـــيلـــوی

چـــی پـــښـتـــانـــه دلغمــــان دمـــرکـــزپـــــه شــــمـــول پـــه ټــولـــو ولســـواليـــو کی ژونـــدکوی اوتـــاجــک دمـــرکـــز پـــه شمـــول دعلينــــګار او قـــرغيـــو پـــه ولســــواليـــو کی او پــــشـــيان پـــه علـــيشنـــګ،بــــادپـــخ دولـــــــــت شـــــاه او دعلــــينــــګار پــــه جګـــو درو کی ژونـــد کـــوی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی ولایت پښتنانه دسهاکو صاپیانو هوت خیلو خروټو رستم خیلو الکوزیو نیازیو مچین خیلو اکاخیلو او وردکو له قبیلوڅخه دی.

## دلغمان ولایت مشاهیرین

محمد نور بابا،ګل پاچا الفت،محمد شاه بابکرخیل،قیام الدین کشاف،محمد اسمعیل یون، سعید افغانی

حبیب الرحمن مهدی،میرمن سایره،عبدالله لغمانیؒ، اسحاق ننګیال،محمدحنیف اتمر،زلمی هیوادمل،ډاکترعبدالظاهر(صدرعظم اسبق) زلمی خلیلزاد،ډاکتر محمدحسن کاکړ ،صدیق کاوون غلام حسن خان ساپی، اسعدالله دانش، عبدالحق وطنوال،مولوی حبیب الرحمن

احمد ظاهر (اوازخوان)،منګل(اوازخوان)،شفیق مرید(اوازخوان)



ولسی شاعر اوربناد محمد نور بابا



ډاکتر عبدالله لغمانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلتور

لکه څنګه چې لغمان له ننګرهار ،اوکنړ ولایت سره ګډه پوله لري له همدې کبله په یاد ولایت کې کلتوري کارونه هم سم پرمخ ځي.

اوله بل پلوهَ دلغمان ولس دخپل کلتور په ساتنه کې رغنده رول لوبولی چې له همدې کبله نسبتاً دنورو ولایتونو څخه په کلتوري مسایلو کې لا هم ځانګړئ ځای لري.

- په لغمان ولایت کې زیات انجمنونه(انجمن) شته ده چې دمثال په ډول دیون فرهنګی انجمن ،دخبریالانو او دلیکوالانو د زون شرق مستقل انجمن،دلمپکا ادبي بنسټ،دلغمان ادبي بهیراو داسې نور

- چې په لغمان ولایت کې دلومړي ځل لپاره په ۱۳۷۷هـ ش کې د لغمان یون فرهنګی انجمن تاسیس شوو

ـ اوپه لغمان ولایت کې یوه پسرلني مشاعره د سمسور لغمان په نوم دلغمان داطلاعات او فرهنګ په ریاست کې جوړیږی چې دلغمان دخلکونه علاوه دګرد افغانستان نه ورته شاعران اوخلک راځي او خپله مینه ورسره شریکوی.

- اوس مهال په لغمان ولایت کې دشاعرانو او لیکوالانو شمیرډیر زیات دی

چې له دی ډلی نه لسګونه شاعران اولیکوالان پښتو ... پشیان هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لغمان ولایت هم دنور ولایتونو په شان ځانته موسیقی لری چی دموسیقی الات یې عبارت دی له هارمونیې،تبلی،نغاری،سورنۍ او داسی نور یې دیاد ولو وړ دی په لغمان ولایت کی دپښتواشعارو فلکورات چی خلک یې په محلاتو کی وایی عبارت دی له (بګتی،سروکی،لوبه ،مقام) او داسی نور...

دمحلی اشعارو مثال

دستړکو محترلام کی دبانه په مینه ناست دی
لغمانه درنه ځارشم ستا خندا درنګینوده

# مدنی نهادونه

په یاد ولایت کی زیاد مدنی نهادونه شتون لری دبیلګی په توګه دعلینګارفرهنګی یون،لغمان ادبی بهیرچی پورته هم ذکر شوی وه ،اتحادیه حمایت حقوق زنان،او د ځوانانو اتحادیه په لغمان کی.






(c) ketabton.com: The Digital Library

# معارف

لغمان ولایت یو له هغو ولایتونو څخه ده چې دنفوس ډیره برخه یې ځوانان تشکیلوی همدا یی دلیل ده چې په لغمان ولایت دسواد کچه نسبتاً لوړه ده خو لاتراوسه پوری ورته خاصه توجو نه ده شوی که څه هم په یاد ولایت ۲۹۱ مکاتب موجود دی چې د هغی له جملی ۱۱۹یی لیسی او نور یې ابتدایه مکاتب دی

د ریاست معارف د مسؤلینو د معلوماتو په اساس په یاد ولایت کی د زده کوونکوشمیر په مجموعی ډول ۱۷۸۱۷۱ تنو ته رسیږی چې له دی جملی نه یې ۸۰۶۱۸ نجونی او متباقی یې هلکان دی

او په دی ولایت کی دښوونکوشمیر هم څه دپاسه ۴۰۹۸ تنو ته رسیږی چې له هغی ډلی یې ۳۱۱ تنه ښځینه ښوونکي او متباقی یې نارینه ښوونکی دی



لغمان که څه هم دمکا تبو او ښوونکو له پلوه کومه کمی نه لری خو دباتجربه ښوونکو نه شتون د یاد ولایت دمعارف ستونزی لاپسی ډیری کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لغمان ولايت کې يو پوهنتون شلوربابه د زراعت ليسې يو دتخنيک اويو دارالعلوم ،دوه انيستوتونه او يو مرکزي دار العلوم له شلورو الحاقيو سره او۱۴بابه مدرسونه چې په ياد ولايت کې فعاليت کوي.

او په ياد ولايت کې شلور بابه خصوصي مکاتب دي چې لسګونو زده کوونکو ته يي د زده کړې زمينه برابره کړې ده.

# صنعت

لغمان ولايت په خپل ستراتيژيک موقيعت سره سره بنه محيط دصنعت لپاره لري مګر شنګه چې لازمه ده هغومره يې رشد نده کړئ لامل يې د مرکزي اداري پس ملاتړده.

لغمان دکار کولولپاره خه آب او هوا لري مګر شنګه چې لازمه ده کارورته نده شوي په لغمان کې صنعتي فابريکې ډيرې کمې دي او که شته نوهغه هم ډيرې کوچنې دي چې په ياد ولايت کې يوه وړه دچپلکو جوړولو فابريکه او يوه دنجاری ،يوه د روب اويوه دپاميرکولا فابريکه شته ده چې ددې نه بغير بله هيڅ صنعتي فابريکه په ياد ولايت کې شتون نه لري او نه لا تر اوسه چا سرمايه کذاری کړی ده که خه هم د هيواد ډير لوی سرمايه داران دلغمان شخه دي خو تر اوسه پوري يي ياد ولايت ته کوم خدمت نه ده کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






# زراعت

په لغمان ولایت کی مهمی زراعتی ځمکی شته او داوبو له پلوه هم یاد ولایت غنی ده چی د کابل سیند علاوه دعلینګار او علیشنګ سیندونو د او یو شمیر کاریزونو او څاه ګانو یاد ولایت داوبوله اړخه غنی کړی دی او همدا یی عمده دلیل ده چی زیات شمیر خلګ يې په زراعت بوخت دی.

سبزیجات او نورنباتی محصولات نه یوازی دلغمان دخلکو بلکه دنورو مشرقی او دکابل د خلکو اړتیا پوره کوی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

او یاد ولایت د وریجو اوغنمو علاوه د لوبیا ،کدو ،فاصلی،لیړواو داسی نوری مختلفی ترکاری او تازه میوی هم په یاد ولایت کی ښه حاصلات لری د مثال په ډول توت، انځر، مڼه زردالو، چهارمغز،کینو،نارنج مالته ،لیمو او همدا راز بله ځانګړی میوه چی د یاد ولایت په غرونوکی شته ده یعنی جالغوزه چی په نړی ځانګړی شهرت هم لری او دیاد ولایت په غرونوکی د ارچه ،صبر،بلوط اودچینارونو نه علاوه د نورو ونو ځنګلونه هم شته ده.











(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیندونه او بندونه

پوښتنه: آیا دسیندونو مخه بندونه نیولی شی؟

که مو جواب هو یا نه وی نو دلیل یې څه ده

---

اصل موضوع

په لغمان ولایت کی دوه لوی سیندونه بهیږی چی یو یی د علینګار سیند او بل یې د علیشنګ سیند دی چی وروسته دقرغیو په ولسوالي کی دکابل له سیند سره یو ځای کیږی چی اوبه یی دړونټې بند ته لویږی دړونټې بند چی دقرغیو ولسوالی مربوطاتوکی ده چی برق یې د ننګرهار ولایت لپاره ځانګړی شوی ده او د

۱۳۹۳ ه ش راهیسی دعلینګار پر سیند دبند دجوړولو خبري ډیری تندی روانی دی چی دیاد بند په جوړیدو سره به دلغمان نه علاوه دننګرهار او کابل ولایتونو دبرق ستونزی هم هواري شی.





(c) ketabton.com: The Digital Library

# اجتماعی رسنی

په لغمان ولایت کی زیادی اجتماعی رسنی نشرات لری.

- په عمومی توګه اوس مهال دوه ډوله رسنی د زیاد شهرت درلودونکی دی ۱) صوتی ۲) تصویری

1) صوتی رسنی : په یاد ولایت کی زیادی صوتی رسنی فعلیت لری چی عبارت دی د لغمان ملی راډیو ،کاوون غږ راډیو،کله ګوش راډیو او نوښت راډیوڅخه.

او په یاد ولایت کی زیادی هغه صوتی رسنی هم فعلیت لری چی مرکزونه یی په ننګرهار ولایت کی دی چی هغه عبارت دی له ننګرهار ملی راډیو ،نرګس راډیو،شرق راډیو،اصلاح، مرام ،کلید اباسین ،صفا ،نن ،همیشه بهار، انعکاس، اومینه راډیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمینی راډیوځانګړی خپرونې په لاندې ډول دی



- هغه صوتي رسنۍ چې له کابل نه يي نشرات په لغمان کې اوريدل کيږي عبارت دي له ارمان ،اراکوزيا ،اريانه ، بي بي سي ،ازادی راديو،امريکا غږ اشنا راديو،مشال ،سيتا،نوا ګوربت، کابل ملی راديو،سلام وطندار،شمشاد ......






(c) ketabton.com: The Digital Library

# تصویری رسنی

په لغمان ولایت کی یوازی یوه تصویری رسنی شته چی عبارت ده د لغمان ملی تلویزون نه چی هغه هم په یو شبانه روز کی شو ساعته خپرونی لری.

هغه تصویری رسنی چی دکابل نه یې خپرونی په لغمان کی اوریدل کیږی عبارت دی دملی تلویزون،آشنا،طلوع نیوز، لمر ژوندون،شمشاد ،خورشید،نور ،او دیک تلویزون ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چاپی رسنی

په یاد ولایت کی یو شمیر چاپي رسنی هم شته چی تراوسه یی فعالیت ښي پایلی له ځان سره لری موجودي دی چی یادی چاپی رسنی عبارت دی د لغمان مجله ،شینکی لغمان مجله روښان مجله،نورلام مجله د لغمان ځوانانومجله ،او بورا مجله ده چی یادی مجلی په ډیر لوړ کیفیت سره نشرات کوی آما اوس دلمنځه تلو له ګواښ سره مخ دي.

# سپورټ

لغمان چی دسپورټ دکور په نوم هم یاد شوی دی او مختلفی لوبی پکی کیږی چی دهغي له ډلی نه یی خوسئ،ولیبال او کریکټ ډیری مشهوری لوبی دی آما اوس مهال یې دخلکو ډیره توجو د کریکټ لوبی ته ده چی دهغی عمده دلیل هم دافغانستان وروستي بریاوی دی.



دافغان کریکټ ملی لوبډلی د وروستیو بریاوو نه یواځی د افغان لوړ پوړچارواکو پام ځانته راړولی بلکی د کریکټ دنړیوالی شورا پام یی هم ځانته جلب کړی ده

ریچرډ ډان چی دکریکټ دنړیوالی شورا دلوړمهارتونویا(های پرفارمنس) مشر دی ویلی چی دکریکټ نړیواله شورا دافغانستان وروستی بریاوی ستایي او یادی لوبډلی ته دلا بریاوو هیله لری او زیاته یی کړه که چیرته افغان لوبډله غواړی چی لا بریالي اوسی نو باید خپلو هسوته دوام ورکړی ترڅو دنړی اتله لوبډله اوسی.










(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ومن الله توفیق

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**